مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین
۲۰۲۶/۰۴/۲۹

# د ایران، امریکا او اسرایلو جګړه

## (لومړۍ برخه)

ولیدل شول چې له ایران سره د اسرائیلو او امریکا جګړه تر یوې اوږدې مودې د هرمز تنګي د تړل کېدو لامل ګرځېدای شي. دا تنګی د اقتصاد هغه حیاتي لاره ده چې د نړۍ شل سلنه مایع ګاز او نفت ورڅخه تېرېږي. په دې لار هر ډول خنډ او ځنډ د اروپا، امریکا او په ځانګړي ډول دونلډ ټرمپ له پاره ستونزې ولاړولی شي، خو په ورته وخت کې کیدای شي چې د روسیې په ګټه تمامه شي.

د هرمز د تنګي تړل کرېملین ته نور هم دا امکان ورکوي چې د خپلو نفتو او سون توکو صادارت ډېر او د اوکراین پر وړاندې جګړې ته نور میلیاردونه ډالر لاس ته راوړي.

دا روښانه حقیقت دی چې د امریکا د جمهور رئیس دونالډ ټرمپ ورستیو له کبر او بې مورده غروري کړنو له امله نړیوال پخوانی جوړښت او بلاکونه داسې سره وپاشل شول، چې بېرته یې رغول او د باور تر لاسه کول زیاتو هلو ځلو او نوو پالیسیو ته اړتیا لري.

د دنمارک هېواد د ګرینلند د جزېرې د نیولو، د وینزویلا د جمهور رئیس او د هغه د میرمنې اختطاف او تر ټولو لومړي پر ایران د امریکا او اسرائیلو جګړې د ټرمپ موقف او د امریکا سیاسي او نړیوال ارزښت خورا راټیټ کړ، دغه هېواد خپل نږدې متحدین او حتا د ناټو د غړو هېوادو ملاتړ له لاسه ورکړ، په خاص ډول د ایران سره په جګړه کې د امریکا نظامي طاقت او د بیلا بیلو وسلو او وسایلو کیفیت د الوتکو په ګډون خپل پټ ماهیت له لاسه ورکړ.
د اسرائیلو سیاسي او پوځي مشرانو په سر کې بنیامین نتنیاهو په ډېر ماهرانه توګه دونالد ټرمپ په دغه جګړه کې رابنکیل کړ.

نتنیاهو له لسیزو راهیسې ځان د ایران سره د مقابلې له پاره چمتو کړی و او په دغه سیمه کې یې ایران د ځان له پاره ستر ګواښ ګڼه، د هغه اوږده سیاسي مخینه تر ډېره د دې ژمنې پر بنسټ ولاړه وه چې اسرائیل به د خپل ایراني دښمن پر وړاندې هم له ځانه دفاع کوي او هم به د دې هڅه کوي چې د غربي متحدینو، ناټو او امریکا په مرسته د ایران موجود نظام دړې وړې کوي او پر ځای به یې د دوی د خوښې یو ګوډاګي مزدور نظام چې د رضا شاه پهلوي ځوی ورته ګوندې وهلي وي رامنځته کوي.

د اسرائیلو د پوځ لوی درستیز هم دا یو داسې عملیات بللی و چې «دغه عملیات زموږ د موجودیت او زموږ د راتلونکی د خوندي کولو له پاره تر سره کېږي، تر څو راتلونکي نسلونه د خپلو نیکونو په ټاټوبي کې ارامه ژوند وکړي.»

د بنیامین نتنیاهو یوه پخواني سلاکار دغه جګړه «د ټول منځني ختیځ د مسیر د بدلولو له پاره یو طلایي چانس بللي و.»

په تل ابیب کې میشت خبریال او د امریکا اسرائیلي ګډ څېړنیز مرکز د اسرائیلو د پالیسي ټولنې سلاکار نري زیلبر وایي:

«دا د هغه څه اوج دی چې نتنیاهو هڅه کړې چې د ژغورنې د جګړې په نوم یې بیا معرفي کړي، هغه جګړه چې د هغه په باور د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر له اوومې نیټې پیل شوې، خو که دا وروستی جګړه نه وي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

لږ تر لږه د ایران پر ضد د هغه تر ټولو ستره جګړه خو ده». خو حقیقت دا دی چې دا د اسرائیلو او امریکا هسې یو بې ځایه خوب او خیال دی.

ریښتیا چې دغې نامشروع جګړې، سره له دې چې ایران ته یې خورا مادي او ځاني تلفات ور په برخه کړل، خو په معنوي او سیاسي برخه کې یې د ایران ولس او حتا د نظام مخالیفین د خپل دایمي دښمن په مقابل کې یو واحد سنګر کې نور هم سره را نږدې او یو موټې کړل.

نتنیاهو او ټرمپ سوچ کاوه چې په ایران کې د رژیم بدلون کولای شي د اسرائیلو ډېر سیمه ایز مخالفان، لکه په لبنان کې حزب الله او په غزه کې حماس، د ایران له مالي سرچینو، روزنې او وسلو بې برخې کړي او اتکل دا و چې ورسره به د اسرائیلو امنیت بدل او نور به هم خورا خوندي پاتې شي.

د جګړې د پیل نه تر مخه ټرمپ او نتنیاهو سوچ کاوه چې دغه جګړه به په یوه اونۍ کې پای ته رسیږي او دوي به خپلو موخو ته چې د نظام پاشل، بدلون او پر ځای یې د دوی د خوښې ګوډاګی حکومت رامنځته کول و تر سره کړي، دا ځکه چې د دوي استخباراتو او جاسوسي شبکو د ایران د لوړپوړو چارواکو او د مذهبی مشر تر دفترونو پورې ځانونه رسولي وو.

دوي ځکه مطمئن وو، چې د ایران د لومړي لاس مشران او نظامي جنرالان لا د مخه د یوه منظم پلان له مخې په نښه شوي وو، مګر بیا هم دغو وژنو د ایران پر نظامي او سیاسي ستراتیژۍ هیڅ منفي اغیزه ونه کړه او دغه تشې په اتوماتیک ډول ډکې شوي، ځکه ایراني واکدارانو او د سپاه پاسداران مشرانو د کلونو راهیسې د دې وضعیت اندیښنه درلوده، نو ځکه په ډېر سرعت سره یې د خپل نظامي وړتیا او پوره لوړ طاقت د جوړولو په برخه کې چې د بیلا بیلو برخو څو ډوله د لوړ کیفیت, بالستیک توغندیو، مزایلو، راکیټونو، بې پیلوټه الوتکو او نورو مدرنه وسایلو او تجهیزاتو د جوړولو په لار کې له حده زیات بریالیتوبونه تر لاسه کړي وو چې رواني جګړې د دوی طاقت او لوړتیا په عمل کې ثابته کړه.

وروسته تر هغه چې د اسرائیلو د استخباراتي راپورونو له مخې په یوه هوایي برید کې د ایران د اسلامي جمهوریت مذهبي مشر خامنه یې د رهبري د یو شمېر نورو مشرانو سره ووژل شول، نتنیاهو او ټرمپ ته یو ځل بیا اومید پیدا شو، چې د ایران نظام به وپاشل شي، نو ځکه نتنیاهو څو ځلې د ایران له خلکو وغوښتل چې له دغې تشې او وضعیت نه په ګټه اخیستو سره د سراسري پاڅون له پاره راپورته شي، خو اوس نور د ایران ولسونه هغه د جګړې د پیل له مخه ولسونه نه وو، بلکې د امریکا او اسرائیلو د دغو بې رحمانه تجاوزونو پر ضد ایرانیان نور هم خورا سره یو موټی شوي او د خپل د نظام تر څنګ دریدلی دی.

نوربیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ